**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

## هند یو ځل بیا خپلو خلکو ته د حزب التحریر په اړه حقیقت ویلو کې پاتې راغئ

(ژباړه)

د ۲۰۲۳م کال، د مې په ۱۰مه بېلابېلو رسنیو راپورونه ورکړي چې د هند په دوو ښارونو؛ بهوپال او حیدراباد کې شاوخوا ۱٦ مسلمانان نیول شوي. په دغو راپورونو کې پر حزب التحریر تور پورې شوی او یو «ترهګر» سازمان یاد شوی چې د هند پر وړاندې د «جهاد» نیت لري. په راپورونو کې د ځینو «بهرنیو» استخباراتي ادارو په ګډون بېلابېلې استخباراتي ادارې (دولتي او د اتحادیې) د «نامعلومو» سرچینو په توګه ماخذ نیول شوې. له نیول شوو کسانو سره د حزب التحریر له لوري چاپ شوي کتابونه د تورونو اساس بلل شوي. له هغه وخت راهیسې په انلاین ډول بېلا بېل تورونه خپرېږي؛ ځینې یې دغه ۱٦نیول شوي مسلمانان په تامیل ناډو ایالت کې د حزب التحریر د غړو له هغې قضیې سره تړي چې اوس روانه ده. (<u>سرچینه</u>)

د نړۍ تر ټولو لویې ډیموکراسۍ؛ یعنې هند په وار وار ښودلې چې دوی ته حقیقت ارزښت نه لري. د مودي حکومت (د قضایه قوې په ګډون) د ټولنې د بېلابېلو برخو له لارې غواړي د حزب التحریر مفکورې ته زیان ورسوي او تورونه پرې پورې کړي چې خلک د دغه حزب له دعوت څخه مخ واړوي؛ د مودي حکومت داسې ښيي چې ګواکې د حزب دعوت د کوم بهرني دولت غوښتنه ده. د حیرانۍ خبره په دغې موضوع کې د رسنیو د ادارو بې پروایي ده. په هند کې دا معمول ده؛ په داسې حال کې چې د نړۍ په کچه پر ډیموکراسۍ د خلکو باور د پام وړ کم شوی او د دې اصلي لامل دا دی چې خلک پوه شوي چې ډیموکراسي په وار وار د ژوند په بېلابېلو برخو؛ لکه حاکمیت، سیاست، اقتصاد او ټولنیز برخو کې پاتې راغلې. دا د حیرانتیا خبره نه ده، ځکه چې مودي په دې وروستیو کې د ډیموکراسۍ په اړه نړیواله غونډه کې د دې خبرې په کولو - چې هند د ډیموکراسیو «مور» ده - نړۍ حیرانه کړه. د مودي دې خبرې له ځینو هغو احساساتي او تودې وینې واله هندیانو پرته چې حقیقت ته له پام پرته د مودي هره خبره مني؛ د هند خلک، روښانفکران او بنسټونه هم حیران کړل. مشهور مورخ، البیروني په ۱۰۱٦م کال کې د هند سیمې ته سفر کړی و او د خپلو سترګو لیدلی حال یې داسې بیان کړی چې د تش په نامه «هندو عالمانو» له دې سره جوړه وه چې د دین او تاریخ په اړه خلکو ته په خپلو خبرو کې اغراق وکړي او درواغ ووایي او دا ډېری وخت د هغه وخت د حاکمانو له لوري منل کېدل! ان په دې وروستیو کې وینو چې څنګه د BJP رهبران د کشمیر دوسیو (The Kashmir Files) او د کریلا کیسې (The Kerala Story) پشان تخیلي

فلمونه د «حقايقو» په توګه مني. ښايي د وخت په تېرېدو د اسلام د دښمنانو له لوري په درواغو د حقيقت په پټولو کې بدلون نه وي راغلی او د ډیموکراسۍ په نوم ملنډو له دې خبرې سره لا مرسته کړې وي.

سره له دې چې دولتونه، حاکمان او د هغو اجېنټان د هند د خلکو پر وړاندې درواغ خپروي، حزب التحرير به د حقيقت له ويلو او تکرارولو ستړی نه شي. حزب التحرير اسلامي نړۍ ته د حکومتولۍ لپاره خلافت نظام وړاندې کوي. د خلافت د بيا تاسيس لپاره د حزب التحرير منهج او تګلاره يوازې تر فکري او سياسي دعوت پورې محدوده ده او د خلافت نظام د تاسيس لپاره مادي تګلارې، لکه د وسلو او تاوتريخوالي کارول د شرعي تګلارې خلاف ګڼي.

حزب التحرير دغه دعوت د دې لپاره کوي چې مسلمانان فکر او غور وکړي او په دې لار کې د مخالفانو تورونو ته پام نه کوي. دغه بې ځايه تورونه په حقيقت کې متنفذينو ته د حقيقت د ليدلو وړتيا ورکوي، ځکه چې حقيقت د بل هر څه خلاف خپل جذابيت لري. دغه پيښې د حق د دعوتګرانو پر وړاندې د *جاهليت* د دعوتګرانو کمزوري ښيي. الله سبحانه وتعالی به د حقيقت د مخالفانو د دسيسو پر وړاندې د مخلصو دعوتګرو ملاتړ وکړي، *بأذن الله.*

موږ، حزب التحرير د اسلامي امت استازي يو. موږ پر ټولو انسانانو؛ مسلمانانو او نامسلمانو غږ کوو چې اسلام د يو متمدن بديل په توګه ومني؛ پانګوال نظام، سيکولريزم او ډيموکراسي پريږدي، چې د هند د خلکو په ګډون يې انسانيت بدبخته، بېوزله او ويشلی دی. موږ پر هغو مخلصينو، چې خپلو خلکو ته وفادار دي، غږ کوو چې د پلورل شوو رسنيو د ادعاوو حقيقت معلوم کړي؛ دغه رسنۍ د هغو پانګوالو غلامي کوي چې د اسلام او مسلمانانو له بدنامولو ګټه اخلي تر څو خلک د ازادۍ او ډيموکراسۍ په نامه په خپله غلامۍ کې وساتي. په داسې حال کې چې موږ مسلمانان هغه قوم يو چې الله سبحانه وتعالی رالېږلي يو تر څو انسانان د انسانانو له عبادت څخه د الله عبادت؛ د دنيا له تنګوالي څخه د دنيا او آخرت پراخوالي او د دينونو له ظلم څخه د اسلام عدالت ته راوبولو.

**﴿إِنَّهُ مَن يَأْتِ رَبَّهُ مُجْرِمًا فَإِنَّ لَهُ جَهَنَّمَ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَى﴾**

**ژباړه:** *«حقيقت دا دی، څوک چې د مجرم په توګه د خپل رب حضور ته ورشي، د هغه لپاره دوزخ دی، چې په هغه کې به نه مري او نه به هم ژوندی پاتې کېږي.»* [طه: ۷۴]

**انجنير صلاح الدين عضاضه**

**د حزب التحرير- مرکزي مطبوعاتي دفتر مشر**

د ذوالقعدې ۱، ۱۴۴۴هـ.ق کال

د مې ۲۱مه، ۲۰۲۳م کال

د صدور ګڼه: ۱۴۴۴ /۰۳۷

ژباړه: فریدون محتاط